د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۹۱ مه گڼه ● پنجشنبه ● د زمری ۳مه ● ۱۳۹۸



۸

# په نورستان کې د ۲۷۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو سړکونو او ۳۲ ښوونځیو د ودانیو د جوړولو چارې پیل شوې



۹

## په ننګرهار کې د ۸۵ میلیونو افغانیو په لګښت د ۱۵ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو



۵

## د ۳۱۲ میلونو افغانیو په ارزښت د ٦١ پرمختیایي پروژو د تړونونو لاسلیکدل



# تکمیل کار بازسازی کانال و کاریز روستای فتح‌الله خیل ولایت پکتیا

۲۹ سرطان ۱۳۹۸

کار بازسازی کانال و کاریز روستای فتح‌الله خیل به ارزش نزدیک به یک میلیون افغانی در مرکز ولایت پکتیا از سوی دفتر انسجام برنامه‌های ساحوی وزارت احیا و انکشاف دهات تکمیل شد.

در جریان تطبیق این پروژه ٤۱۹ روز کاری ایجاد شده است.

با تکمیل کار پروژه‌ی مذکور، ۱۷۰ هکتار زمین زراعتی تحت پوشش منظم آبیاری قرار گرفته و ۱۵۱۲ تن از باشندگان محل از آن مستفید شده اند.

# په ننگرهار کې د ۸ میلونو افغانیو په ارزښت د ٤۳ څاګانو ایستل او د ٦۷ څاګانو د کار پیلیدا

چنګاښ/ ۲۹/ ۱۳۹۸

د امریکې د متحدو ایالتونو د پرمختیایي ادارې په مالي لګښت د IMC موسسې له خوا ددغه ولایت د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا ریاست سره د همغږۍ، په پایله کې د ننګرهار په کوز کونړ کې ٤۳ څاګانې و ایستل شوې او د ٦۷ نورو څاګانو د ایستلو کار روان دي.

په ټوله کې ددې څاګانو د ایستلو لپاره ۸ میلونه افغانۍ بیلې شوې دي چې له دې ټولګې پر هرې څاه نږدې ۷۰ زره افغانۍ لګښت کیږي.





# په تخار کې د ۳.۵ میلونو افغانیو په لګښت د یو استنادي دیوال کار بشپړ شو

چنګاښ/ ۲۹ / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام تر سیوري لاندې د تخار ولایت په ورسج ولسوالۍ کې د ده بالاي میان شهر او حصار پرمختیایي شورا له خوا د ۳.۵ میلونو افغانیو په لګښت سره د یوه استنادي دیوال د جوړیدو کار بشپړ شو.

دغه دیوال ۵۱۰ متره اوږد او ۲.۸ متره لوړ دي، د کار په ترڅ کې یې فني او نافني کارګرو ته ۳۰۱۸ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې.

د یادونې وړ ده چې له دغې پروژې څخه به ۱۵۵ کورنۍ ګټه واخلي او ۳۵ جریبه ځمکه او مواصلاتي سړک به د سیند له اوبو او موسمي نیزونو وژغوري.



# په نورستان کې د ۷۸ میلونو افغانیو په ارزښت د چتراس- جواد د سرک جوړول

چنگاښ/ ۲۹/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د کلیوالي سیمو د لار جوړونې د ملي پروگرام له خوا د نورستان په مرکز کې له چتراس کلي څخه تر جودا کوتله پورې د ۹ کیلومتره سرک د جوړولو کار روان دي.

پر دغه سرک ۷۸ میلونه افغانی لگښت راځي چې په جوړیدو سره به یې د ولایت مرکز له وایگل ولسوالۍ سره وتړل شي او د پارون  اسعد اباد لاره به له ۱۲۰ کیلو مترو څخه ۶۵ کیلو مترو ته ښکته شي.

د سرک د کار په بشپړتیا سره به تر ډیره د وایگل ولسوالۍ د خلکو ترانسپورتي ستونزې هوارې شي.

# په ننگرهار کې د ۱۹ میلونو افغانیو په ارزښت د ۱،۱۱۹ کیلومتره استنادي دیوال د کار پیل

د چنگاښ ۲۹ مه ۱۳۹۸ کال

د ننگرهار د کوټ ولسوالۍ په سه پاي کلي کې د کلیو د بیارغاونې او پرمختیا وزارت د سیمزې ودې د پروگرام تر چتر لاندې د څه باندې ۱۹ میلونو افغانیو په لگښت سره د ۱،۱۱۹ کیلومتره استنادي دیوال د جوړولو کار پیل شو، ددغه دیوال د جوړیدو د کار په پیل سره سلگونو سیمیزو خلکو ته د کار زمینه برابره شوه، باید ووایو چې د یاد دیوال تر بشپړتیا وروسته به ۶۰۰ جریبه مځکه د نیزونو او سیلابونو له گواښه خوندي شي.





# د ۳۱۲ میلونو افغانیو په ارزښت د ٦١ پرمختیایي پروژو د تړونونو لاسلیکدل

۱۳۹۸/٤/۳۰

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د یکشنبې پر ورځ (۳۰ مه د چنگاښ) د هیواد د ۱۳ ولایتونو له پرمختیایي شوراګانو سره د څه باندې ۳۱۲ میلونو افغانیو په ارزښت د ٦١ پرمختیایي پروژو تړونونه لاسلیک کړل. له دغو پرژو یو شمیرېې د خصوصي شرکتونو له خوا پلې کیږي. په دې پروژو کې د کاریزونو رغول، د سرکونو کانکریټول، د پلونو او د اوبه خور د کانالانو او استنادي دیوالونه جوړول شامل دي.

د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي پر دې اړه جوړې شوې غونډې ته وویل چې ‹‹ دا پروژې د هیواد په ۱۳ ولایتونو بغلان، بادغیس، لوګر، بلخ، هرات، کابل، کندهار، خوست، پکتیا، پروان، میدان وردګ، زابل او نورستان ولایتونو کې پلې کیږي››.

سربیره پر پرمختیایي شوراګانو یو شمیر خصوصي شرکتونه به هم ددې پروژو د تطبیق او پلي کولو چارې پر غاړه ولري. ښاغلي کریمي زیاته کړه «دا پروژې چې د خلکو د د هوساینې لپاره په پام کې نیول شوي څه باندې ۳۱۲ میلونه افغانۍ لګښت پرې راځي او د پروژو شمیر یې تر ٦۱ زیات دي. له دې پروژو به ۱٤۷ زره هیوادوالوګټه اخلي. سربیره پردې به ۱۳۷ زره کاري ورځې ایجاد کړي اوګڼ شمیر هیوادوالو ته به کاري زمینې برابرې کړي».

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا د وزیر په وینا یوازې هغه سرک چې په نورستان کې کانکریټیږي ورسره به نږدې ۹ زره کاري ورځې ایجاد شي. له دې سره همهاله به ۱۲۳۰۰ کلیوال هیوادوال له دې پروژې ګټه واخلي.

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا د وزیر په وینا له یادو ٦۱ پروژو څخه ۳۱ یې د هیواد له ملي بودیجې تمویلیږي، ۲۹ پروژې د ایټالیا هیواد له خوا او یوه پروژه د هندوستان هیواد له خوا تمویل شوې ده. ددې پروژو په تطبیقولو او پلي کولو سره به زرګونو هیوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شي.



# زابل کې د ۲ میلونو افغانیو په ارزښت د یوه ګبیون ډوله دیوال د جوړولو کار روان دي

د چنګاښ ۳۱ مه ۱۳۹۸ کال

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام تر چتر لاندې په زابل ولایت کې د ۲ میلونو افغانیو په لګښت د یوه ګبیون ډوله دیوال د جوړلو کار روان دي.

دا دیوال د یاد ولایت د ترنک او جلدک ولسوالۍ د حاجي عبدالخالق کلي د پرمختیایي شورا له لارې جوړیږي.

دغه ګبیون ډوله دیوال ۱۱۰ متره اوږدوالي لري چې د جوړولو د کار په اوږدو کې یې فني او نا فني کارګرو ته ۱۷٦۳ کاري ورځې ایجاد شوې دي.

ددیوال د کار په بشپړتیا سره به د سیمیزو وګړو ۳۵۰ جریبه مځکه د نیزونو او سیلابونو له ګواښه خوندي شي.





# په کندز کې د یو میلون افغانیو په لګښت د څښاک د اوبو د ۱۳ څاګانو د ایستلو کار بشپړ شو

د چنګاښ ۳۱ مه ۱۳۹۸ کال

په کندز ولایت کې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام تر چتر لاندې د څه باندې یو میلون افغانیو په لګښت سره د څښاک د اوبو ۱۳ څاګانې و ایستل شوې ، بمبې پرې ولګول شوې او دغسې دغه پروژه ګټې اخستنې ته وسپارل شوه.

هره څاه ٤۰ متره ژوروالي لري، ددغه کار په ترڅ کې فني او نا فني کارګرو ته ۷۸ کاري ورځې ایجاد شوې وې.

د څاګانو په ایستلو سره ۳۷۱ کورنیو د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.



# په نورستان کې د ۲۷۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو سړکونو او ۳۲ ښوونځیو د ودانیو د جوړولو چارې پیل شوې

۱۳۹۸/زمري/۱

د جمهور رئیس سلاکار او د مالیې وزارت سرپرست وزیر محمد همایون قیومي، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي، د لوړو زده کړو وزیر عبدالتوب بالاکرزي ، د اوبو او انرژي وزیر محمدګل خلمي لخوا په نورستان کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت لخوا د دوو سړکونو د جوړولو چارې پیل شوې.

په دې دوو سړکونو کې چې یو یې ۵۱۰ متره اوږد کانکریټي سړک دی او د نورستان مرکز پارون له کامدیش ولسوالۍ سره نښلوي، د نږدې ۸۰ میلیونه افغانیو په ارزښت او بل سړک چې ۲۵،۸ کیلومتره اوږدوالی لري ، د ۲۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت جوړیږي.

د دې ترڅنګ د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر او ورسره مله پلاوي په نورستان کې د ۱۶۹ ښوونځیو له ډلې د ۳۲ ښوونځیو ودانیو جوړولو چارې هم پیل کړې.

# په ننگرهار کې ۸،۷ میلونو افغانیو په ارزښت د کوچیانو لپاره د اوبو رسولو د ٤ شبکو د جوړولو تړونونه لاسلیک شول

۳۱ چنگاښ ۱۳۹۸ کال

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزار له خوا د ننگرهار ولایت د روداتو، بهسودو، پچیر اگام او بټي کوټ ولسوالسو له سیمیزو شوراگانو سره د ۸،۷ میلونو افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د ٤ شبکو تړونونه لاسلیک شول. په پام ده چې دا شبکې د ۳ میاشتو په ترڅ کې د کلیو د بیارغاونې او پرمختیا وزارت د سیمیزو پرروگرامونو د همغږۍ ددفتر له خوا ورغول شي. ددې پروژو په بشپړتیا سره به ۷۰۰ کورنۍ د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسي پیدا کړي.





# په ننگرهار کې د ۸۵ میلیونو افغانیو په لگښت د ۱۵ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو

۳۱ چنگاښ ۱۳۹۸ لمریز کال

د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروگرام تر چتر لاندې د ننگرهار ولایت په دره نور ولسوالۍ کې د ۸۵ میلونو افغانیو په ارښت د ۱۵ ښوونځیو د جوړولو چارې پیل شوې. باید ووایو چې په پام کې ده د اقرا پروژې تر چتر لاندې په ننگرهار کې د ۲۰۰ ښوونځیو ودانۍ جوړې کړل شي.



# د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا په وزارت کې د ملکي خدمتونو د کارکونکو د بایو میتریک کولو د پروسې پیل

زمري/ ۱/ ۱۳۹۸

نن د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا په وزارت کې د ملکي خدمتونو د کارکونکو د بایو میتریک پروسه یانې د بشري سرچینو د اطلاعاتو د مدیریت سیستم (HRMIS) په رسمي توګه پرانستل شو چې د پرانستې په مراسمو کې یې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت مالي او اداري معین معراج الدین شمس د ملکي خدمتونو د اداري مشر احمد مسعود توخي د وزارت ریسانو او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو یو شمیر کارکونکو ګډون کړي و.

په پیل کې معراج الدین شمس وویل چې دا سیستم د ملکي خدمتونو اړوند معلوماتو ته داسې بنه ورکړي چې په خپل وخت به وړاندې کیږي، کره به وي او په اسانه به ترې

کار اخستل کیږي او دا سیستم په لږ وخت کې معلومات په چټک ډول د اداري او کارکونکو په واک کې ورکوي.

د ملکي خدمتونو د اداري عمومي رییس احمد مسعود توخي وویل چې RHMIS یو انلاین سیستم دي او د ولسمشر محمد اشرف غني په حکم د ملکي خدمتونو د اطلاعاتو په برخه کې د شته تشو د ډکولو په موخه جوړ شوي دي. ښاغلي توخي وویل چې په ټوله کې تر دې مهاله په ختیځ زون کې د کلیو د بیا رغوني او پرمختیا وزارت د کارکونکو په ګډون د ملکي خدمتونو ۱۰۰ زره کارکونکي بایو میتریک شوي دي او په پام کې ده چې تر راتلونکي کاله د ملکي خدمتونو ټول کارکونکي بایو میتریک شي.

باید ووایو چې د بشري سرچینو ا اطلاعاتو د مدیریت بیلي برخې لري چې د بیلګې په ډول د ژوند لیکونو (سوانح) حاضری او معاشونو د ورکړې برخې یادولي شو. د هویت له معلوماتو پرته چې تل ثابت دي نور د اړتیا پر مهال معلومات زیاتیدي شي.





# په ارزګان کې د ۱.۸ میلونو افغانیو په ارزښت د یوه کانال د کار پیلیدا

زمري/ ۱/ ۱۳۹۸

په ارزګان ولایت کې د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون د ودانیزو چارو د ساتنې او مراقبت د نغدي پروګرام تر سیوري لاندې د ۱.۸ میلونو افغانیو په ارزښت د یوه کانال د بیا رغونې کار روان دی.

دا کانال د ارزګان ولایت د ترینکوټ په سناتور خیروجان کلي کې ایستل کیږي.

ددې کانال اوږدوالی ۱۵۵ متره دی چې د کار په ترڅ کې یې فني او نا فني کارګرو ته ۱۱۹۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې دي.

ددې کانال په بیا رغونې سره به ۷۰۰ جریبه مځکه خړوبه شي او ۱٤۸ کورنۍ به یې له ګټې برخمنې شي.

# په ارزګان کې د ۱.۵ میلونو افغانیو په ارزښت د څښاک د اوبو د یوې شبکې بشپړتیا

۳/ زمري/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د ارزګان په ترینکوټ ولسوالۍ کې د ۱.۵ میلونو افغانیو په لګښت سره د څښاک د اوبو چمتو کولو یوه پروژه ګټې اخستنې ته وسپارل شوه.

دا شبکه د ۸۳ مترو په ژوروالي سره یوه څاه د ۲۳ متر مکعبو په ظرفیت سره د اوبو یوه زیرمه او ۸ نلکې لري.

د یادې پروژې د بشپړتیا په ترڅ کې فني او نافني کارګرو ته ٦۵۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې. د یادونې وړ ده چې ددې شبکې په رامنځ ته کولو سره ۷۸۰ وګړو د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.

